ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.1 2024

# د قاضي عبدالحليم اثر د تصنيف "باجوړ" تنقيدي جائزه

**Muhammad Naqeeb**[1]
**Dr. Qadar Wahid**[2]
**Dr. Mazhar Ahmad**[3]

Abstract:

Criticism plays a vital role in the world of creation research. It serves as a catalyst for improvement and refinements, helping to validate findings, identify weaknesses, and push the boundaries of knowledge. In essence, constructive criticism contributes to the evolution and enhancement of literature and scholarly work. In this article, the book "Bajauar" by Qazi Abdul Halim Asar has been critically reviewed.

"باجوړ" د نوموړي محقق ښاغلي قاضي عبدالحليم اثر تصنيف دے چې په کال ۱۹۷۰ء کښې ئې قلم ته سپارلے دے۔ د خپلې موضوع په لحاظ يو باقاعده زيار دے چې اثر صيب کړے دے۔ ذکر کتاب د شاه ولي خان ماموند په مرسته سره محمد بلال ياسر په کال ۲۰۱۲ء کښې چاپ کړو۔

چرته چرته چې تخليق کولے شي نو هلته به تحقيق او تنقيد هم په وجود کښې راځي۔ ځکه چې د تخليق، تحقيق او تنقيد تر مېنځه يوه نه جدا کيدونکي رشته ده۔ تحقيق که يو پلو حقيقتونه مېنځ ته راؤړي، د موجوده حقيقتونو د سر نه جائزه اخلي، په علم کښې زياتوالے کوي نو بل پلو تنقيد هم د ادب په پرمختنګ او روښانه کولو کښې مهم کردار تر سره کوي او د يو ادبي فنپاري صحيح معيار ټاکي۔ په دې حقله داؤر خان داؤد ليکي۔

> "په ادب کښې د ټولو نه اهمه شعبه د تنقيد شعبه ده۔ تنقيد د ادب تشريح، خلاصې، تجزيې، وضاحت تفصيل او تفسير ته وائي"[1]

---

[1] PhD Research Scholar in Department of Pashto, University of Malakand.
[2] Lecturer in Department of Pashto, University of Malakand.
[3] Assistant Professor in Department of Pashto, University of Malakand.

داور خان داود وړاندې لیکي:

"په حقیقت کښې تنقید رڼا ده، ښکلا ده، ارتقا ده، رهنما دے، علم دے او سائنس دے، نیغه لار ده او داسې نور"[2]

کله چې د ا خبره واضحه شوه چې تنقید د ادب یوه اهمه شعبه ده نو ددې به ارو مرو ارزښتناک مقصدونه هم وي. نو بیا دا ضروري ګرځي چې تنقید دې خپل کوټلي اصول هم ولري چې په دا ډول دغه ټاکلي اهداف تر لاسه کړي. په دې حواله ښاغلے سلیم راز وائي.

" په تنقید کښې مقصد د نظر لاندې ساتل ضروري وي. خواه کۀ هغه مقصد فني اړخ سره تعلق لري او که فکري یا دواړو سره یعني مقصدیت پکښې لازمي وي"[3]

هر انساني کوشش د غوره والي ګنجائش لري. هم دا رنګه ادبي کارونه هم د خوبو سره ځېنې خامیانې او کمزورې اړخونه لري. ګر چې په دې حواله د سلیم راز صېب دا رائے ده چې په کتاب کښې راؤړلې ټکي د لیکونکي نه د پوخ یقین غوښتنه کوي او لیکونکي له لیک د پوخ یقین سره پکار دے. راز صېب لیکي:

"ځکه مونږ له سوچ پکار دے چې مونږ څه چې لیکو او زمونږ په خپله په دې لیک څومره یقین دے. ځکه چې کتاب نوم د یقین نوم دے" [4]

په دې مقاله کښې به د ښاغلي اثر صېب د تصنیف "باجوړ" یوه لنډه تنقیدي جائزه په دې غرض اخستے شي چې دتحقیق په لړ کښې ترې لارښودہ وشي.

1. په ړومبي نظر کښې د کتاب سر پاڼه ځېنې سوالونه راپورته کوي. چې ښاغلي چاپ کونکي د ذکر شوي کتاب تعلیق او تصحیح څه رنګه کړې دے؟ نه خو د کتاب په اخر کښې تعلیقات ورکړے شوي دي او نه د تصحیح په اړه کوم معلومات. بل دا چې د کتاب په وروستي مخ یو شپېتم، چاپ کوونکو د کتاب د نور ښه کولو او خامیانو لرې کولو د پاره د لوستونکو نه د مشورو اپیل کړے دے. نو نه پوهېګم چې دوئي د اثرصېب په مسوده کښې ګوتې څنګه وهلے

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.1 2024

شي ؟ دا سپیناوے پکار وو چې مونږ د املا ، کتابت یا چاپ په لړ کښې ستاسو نه د نور ښه کېدو تجویزونه غواړو۔

2. کتاب ښاغلو چاپ کونکو او کره کتونکو د باجوړ یو مستند تاریخ ګڼلے دے۔ خو حقیقت دا دے چې دا کتاب د تاریخ په حواله د ټولو اړخونو احاطه نۀ کوي۔ او داسې ښکاري چې د کومې غټې مسودې نه شوکولي شوي رخه ده ځکه لړ لیک ئې بے تتیبه دے او د لوستو نه وروسته هم د راوړے موضوعاتو په حواله یو شیمر سوالونه بے جوابه پریږدي۔ لیکوال هم ددي بیان سره اتفاق کوي او وائي:

"باجوړ" کتاب د تاریخ ټول اړخونه نۀ ښکاره کوي بلکې دا د کومې ضخیمې مسودې یوه برخه معلومیږي ځکه چې تاریخ کښې د کومې منطقي مذهبي، سیاسي او اقتصادي حالات، جغرافیه، شخصیات او داسې نور ډیر معلومات پکار وي"[5]

3. د کتاب په لنډ لیک د ښاغلي اسماعیل سیار او ښنوا باجوړي د کره کتنې سره نومونه چاپ دي خو د بده مرغه دغه دعوه وړاندې کوم تفصیل نۀ لري چې دا کره کتنه ځنګه تر سره شوه داملا ده او که ده متن، نۀ کوم مضمون لري او نۀ په لمن لیک او حاشیو سره کوم وضاحت۔

4. نوموړے محقق ښاغلے عبدالحلیم اثر په خپل کتاب کښې په دولسم مخ د باجوړ د لغوي معنې د پاره د ابو ریحان البیروني د "کتاب الهند" حواله راوړي ده خو حسین احمد ددې سره اتفاق نه لري او وائي:

په ډیره بخښنه سره ما د ذکر کتاب " کتاب الهند" ژباړه او تلخیص دواړه ولوستل خو داسې څه ذکر پکښې نشته۔ البته د "میرون" په نامه د یو غر ذکر کوي۔ چې پوهان ترې د کېمور نسبت اخلي۔[6]

حرف و سخن HARF-O-SUKHAN
ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.1 2024

5. په ډیره بخښنه سره عرض دے چې د کتاب په مخ پنځلسم د بابل عراق د بادشاه خبره د "وئیلے شي" ټکي نه کیږي کوم چې روایتي انداز دے خو تحقیقي نه دے۔

6. دا د اثر افغاني د کتاب "باجوړ" یو په زړه پورې کردار دے چې د باجوړ د بېلا بېلو کلو او علاقو د وجه تسمیه په حواله معلومات لري۔ خو په مخ (۲۱) د سلارزی د کلي "مته شا" وجه تسمیه دپاره چې کوم "مهاتاشا" راوړے شوے دے دا د سنسکرت لفظ دے او د ځائے نوم نهٔ بلکې شهنشاه ته وائي۔ ښاغلے حسین په دې حواله وائي

د مهاتاشا د سنسکرت ټکے دے۔ دا د ځائے نوم نهٔ دے۔ بلکې دا په سنسکرت کښې شهنشاه یعنې د بادشاهانو بادشاه ته وائي۔[7]

7. د ښاغلي عبدالحلیم اثر د تحقیق تر مخه په مخ پېنځویشتم د ابومسلم خراساني (عباسي خلیفه) (۱۳۲ هجري) په حواله لیکي چې په دې دور کښې په ړومبي ځل خراسان او نورې ختیزې سیمې او نیولے شوي۔ ښاغلے اثر افغاني لیکي:

"د دهٔ په زمانه کښې په ۱۳۹ هجري کښې په باجوړ، دیر، سوات یو ډیر تاریخي جنګ اوشه، نو معلومه شوه چې دا ملکونه د اسلام د سبورې د لاندې راغلل"[8]

خو که په دې لړ کښې د تاریخ نور کتابونه په نظر کښې ونیول شي نو معلوم به شي چې دې منطقې ته د دین اسلام رڼا په یوولسمه عیسوی کښې رارسیدلې ده۔ په دې ضمن کښې د نمونې په توګه د ټولګې "ګندهارا (د پښتونخوا د لرغونو اثارو ننداره" نه دا حواله راخلو:

"د پښتونخوا د نورو سیمو په څېر دیر او باجوړ ته هم د اسلام مبارک دین په یوولسمه میلادي پېړۍ کښې د محمود غزنوي پر وخت کښې راغلے او په ډیرې تیزۍ سره خپور شوی دے"[9]

دې سیمې ته د اسلام د راتلو د یولسمې پېړۍ دا نېټه د ډیره تاریخي کتابونو نه معلومېدے شي۔ ښاغلي اثر افغاني په خپل تصنیف کښې ځائے په ځائے دباجوړ د قبیلو په حواله

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.1 2024

هم ډیر ګټه ور معلومات ورکړي دي خو چرته چرته پکښې کمے زیاتے راغلے دے چې لوستونکے په مغالطه کښې غورغولے شي۔ لکه د کتاب "باجوړ" په مخ اتۀ ویشتم(۲۸) لیکي:

"سلطان شهاب الدین غوري چې په کال ۵۹۲ هجري په مطابق ۱۱۹۵ عیسوي کښې دلته کوم قومونه اباد کړي وو، په هغه کښې دله زاک، یوسفزی، ترکاڼي، مشواڼي، متکي، ماموند قومونه هم وو"[10]

دلته دا اعترض په ځائے دے چې کله ترکاڼي یاد شو نو بیا د ماموند قام د یادولو ضرورت یا د ځانله قام په توګه ذکر څه معنیٰ لري۔هم دا رنګه "متکي" چې کرلاڼي قبائل دي، هغه د سړبنو د قامونو سره یو ځائے لیکل لوستونکي خامخا په مغالطه کښې غورځولے شي۔

8. په ډیره بخښنه سره په کال ۱۱۹۵ء کښې د غوري له اړخه د یوسفزو آبادول څه منطق نۀ لري، ځکه چې د لږ تر لږه ټول مؤرخین لکه بهادر شاه ظفر کاکا خېل، ډاکټر عبدالطیف یاد او تاریخي واقعات دا ثابتوي چې یوسفزو د الغ بیګ د قتل عام نه وروسته د پنځلسمي صدۍ په اخېري لسیزو کښې کوزې پښتونخوا ته کوچ کړے دے۔ د ذکر نېټې پخلے د پروفیسر ډاکټر بدرالحکیم حکیم زي د کتاب نه هم په ښه توګه کیدلے شي، ښاغلے لیکي:

"دا د ۱۴۸۴ عیسوي بدبخته کال وو۔ چې اوۀ سوه مشران دیوسفزو په یوه ورځ په یوځائے قتل شول، د دې شهیدانو ثلي د سیاه سنګ په ادیره کښې موجود دي"[11]

دا ښاغلے وړاندې لیکي،

"د دې پېښې نه پس ملک احمد خپله قبیله راټوله کړه۔ او د خېبر په لاره پېښور ته روان شو۔ دغه وخت په پېښور او شا و خوا کښې دله زاک اوسیدۀ۔[12]

اوس نو چې ټول تاریخونه دا ددې خبرې پخلے کوي چې د یوسفزو په راتګ ، دله زاک قام دوي ته د استوګنې د پاره زمکه ورکړې او بیا د دله زاکو او یوسفزو تر مېنځه یو شمیر جنګونه شوي دي نو د دواړو یو ځائے ابادیدل څنګه ممکن کیدے شي۔

9. د کتاب په مخ خلو ديرشم (۳۴) چې د خان مير عالم خان کوم واقعات دي. دغه واقعات د مخ يوکم شپېته د واقعاتو سره لږ ډير تضاد لري. دا تضاد لرې کول هم د تحقيق غوښتنه کوي پکار ده چې سپيناوے يې شوے وے.

10. د کتاب په مخ پنځه ديرش (۳۵) د تاريخ باجوړ د عنوان د لاندې د جاګير د ورکولو معلومات ورکړے شوي دي. ښاغلے اثر صيب ليکي،

"د شهنشاه جهانګير په زمانه کښې سيد محمد نور المعروف چورک بابا د باجوړملک چې د کونړ ـ ـ ـ ـ. په دې لاندينو مشرانو تقسيم کړے وو"[13]

خو د جاګير ورکولو دا دعوی د حسين احمد په خيال کوم بنياد نه لري او تاريخي سهوه ښکاري . په دې لړ کښې حسين احمد خپل نظر په يو ځانګړې مرکه کښې داسې شريک کړو .

"چې د جاګير ورکولو کومه دعوه راؤړې شوې ده نو دا سهي نۀ ښکاري، ځکه چې د شهنشاه جهانګير په "تزک جهانګيري" کښې داسې څه نۀ شته. ګر چه د جهانګير د دور ټول دستاويزات محفوظ دي".[14]

11. د کتاب په مخ خلور ديرشم او پنځه ديرشم د يو خط ذکر څه داسې شوے دے.

"خان مير عالم خان، چې په دولس سوه (۱۲۰۰) هجرۍ کښې د دوابه متهه نومے دارالحکومت نه مير جمال خان حکمران ښار (خار) باجوړ ته کوم تاريخي خط ليکلے دے، هغه په تاريخ کښې تر نن ورځې پورې محفوظ دے"[15]

اوس نوسوال دا پېدا کيږې چې دا خط چرته محفوظ دے. څه تفصيل نۀ لري. زما په خيال د دې تاريخي خط ځائے په ګوته کول ضروري وو.

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.1 2024

12. د کتاب په مخ په پېنځه څلوېښتم (۴۵) د قوم اتمانخېل په حواله معلومات درج دي. اثر صېب لیکي:

"په تاریخ خورشید جهان صفحه ..... کښې ددې قوم شجره داسې بیان دے. د اتمانخیل شپږ ځامن وو عزیزخیل، کرانی، بهمري، همري، دخله، ماندل"[16]

وړومبے دا چې د صفحې / مخ نه پس ځائے خالي پرېښودے شوے دے چې حواله پرې نیمګړې ده. بله دا چې د اتمانخېل د قامونو شجره نسب د ازادبخت په خیال نیمګړے او ګډوډ دے. د اتمانخیل څو زامن وو او څه نوموموته ئې وو په دې حقله د پرنسپل ازاد بخت خبرو لنډیز داسې دے:

داتمانخیل اتهٔ زامن وو. چې په هغوئې کښې ماندل (مشر ورور) علیزی، اسماعیل زی، بیماری، متکي، سنیزي، ګوري، او پیغوزي شامل دي.[17]

د ښاغلي ازادبخت د اتمانخیلو د اتهٔ قبیلو دعویې پخلے د سیلمان شاهد د کتاب "ګمنام ریاست"، د جهان بخت یوسفزي د "تاریخ دیر یوسفزی" وغیره نه هم کېږي.

څنګه چې وړاندې ذکر شوے دے. چې هر انساني کوشش څه کمي زیاتي خامخا لري او په هغې کښې د نور ښه کیدو ځائے موجود وي. د قاضي عبدالحلیم اثر صېب دا کتاب هر څو که کوم تضادات یا د حوالو په حواله د نور ښهٔ کیدو ګنجائش لري خو بیا هم دا کتاب د موضوع په لحاظ یوه ارزښتناک اثر دے. نه یواځې اثر صېب بلکې د دې چاپ کوونکي هم د ډېر داد او مننې حقدار دي او مونږ ترې په علمي نړۍ کښې لا د نور زیار هیله لرو.

حواله جات:

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.1 2024

[1] داود، داورخان، "خپړنه او کره کتنه" ، ملت پرنټرز،لاهور، کال ۲۰۰۳ء،مخ ۱۸۰

2۔داؤد، داور خان، "خيړنه او کره کتنه" ، ملت پرنټرز لاهور، کال ۲۰۰۳ء، مخ ۱۸۰

3۔ راز، سليم، "ادب اؤ تنقيدي مسائل" کلاسيک خپرندويه ټولنه، ننګرهار، کال ۲۰۱۶ء، مخ ۶

4۔راز، سليم، "ادب اؤ تنقيدي مسائل" کلاسيک خپرندويه ټولنه،ننګرهار، کال ۲۰۱۶ء، مخ ۴

5۔ حسين احمد، ژبنۍ مرکه، نېټه، ۲۵ فروری ۲۰۱۸ء، ځاے خار باجوړ، وخت درې بجې ماسپښېن

6 ۔حسين احمد، ژبنۍ مرکه، نېټه، ۲۵ فروری ۲۰۱۸ء - ځاے صفه ماډل سکول ، وخت درې بجې ماسپيحن بحواله سیّد آضغر علی شاه، ژباړه "کتاب الهند" اداره، الفېصل لاهور، کال ۲۰۱۰، تهذيب لثقافت، انډيا

7 -حسين احمد، ژبنۍ مرکه، نېټه، ۲۵ فروری ۲۰۱۸ء، ځاے صفه ماډل سکول ، وخت درې بجې ماسپېښين

8 - اثر، عبدالحليم، قاضي، "باجوړ"، القلم پرنټرز، محله جنګي پېښور، کال ۲۰۱۶ مخ ۲۵

9۔خوېشکي، خالد خان، کال ۲۰۱۶ء، "ګندهارا (د پښتونخوا د لرغونو اثارو ننداره)، عامر پرنټ اينډ پبلشرز پېښور، مخ ۱۵۷

10۔عبدالحليم، قاضي، "باجوړ"، القلم پرنټرز، محله جنګي پېښور، کال ۲۰۱۶ ء، مخ ۲۸

11۔ حکيمزے، بدرالحکيم، ډاکټر، د پښونخوا لنډه مطالعه، اعراف پرنټرز پېښور، کال ۲۰۱۸ء، مخ ۸۰

12۔حکيمزے، بدرالحکيم، ډاکټر، د پښونخوا لنډه مطالعه، اعراف پرنټرز پېښور، کال ۲۰۱۸ء، مخ ۸۱

13۔عبدالحليم، قاضي، "باجوړ"، القلم پرنټرز، محله جنګي پېښور، کال ۲۰۱۶ء، مخ ۳۵

14۔ حسين احمد، ژبنۍ مرکه، نېټه، ۲۵ فروری ۲۰۱۸ء، ځاے خار باجوړ، وخت درې بجې ماسپېښين

15۔ عبدالحليم، قاضي، "باجوړ"، القلم پرنټرز، محله جنګي پېښور، کال ۲۰۱۶ء، مخ ۳۴، ۳۵

16۔عبدالحليم، قاضي، "باجوړ"، القلم پرنټرز، محله جنګي پېښور، کال ۲۰۱۶ ء، مخ ۴۵

17 ۔ ازاد بخت، پرنسپل، ژبنۍ مرکه، ۲۰ فروري ۲۰۱۸ء، وخت دوه بجې ځائے خيبر نيوز دفتر، خار باجوړ